ورځپانه
# هیواد

## د درملو د قاچاق د مخنیوي قانون توشیح شو

د عالیقدرامیرالمؤمنین( حفظه الله) له لوري د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د قاچاق د مخنیوي قانون توشیح او د لایف پرل د درملو کاخونې ته (جي‌ایم پي) تصدیق پاڼه ورکړل شوه، چې له مخې یې بهرنیو هېوادونو ته صادرات کولی شي.

دغه غونډه چې پرون سه شنبه د عامې روغتیا وزارت کې جوړه شوې وه، د عامې روغتیا وزیر مولوي نور جلال جلالي، د چارو اداري لوی رئیس شیخ انورالحق انور، د عامې روغتیا وزارت مرستیالانو او د بېلا بېلو ادرو مسئولینو په کې ګډون کړی و.

د عامې روغتیا وزیر مولوي نور جلال جلالي وویل، چې د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د قاچاق د مخنیوي قانون کولای شي د بې کیفیته خوړو او درملو مخنیوی وکړي او هېوادوال به له ډېر څه نه برخمن شي.

ښاغلي جلالي زیاته کړه چې افغانستان له لسیزو راپه دې خوا د خوړو او درملو په برخه کې یو مصرفي هېواد پاتې شوی دی او ډېر وارداتو ولاړ دی.

الحمدلله دا حالت د بدلیدو په لور روان دې، د نوموړي قانون په تطبیق سره به د درملو د قاچاق مخنیوی وشي.

دی وایي: یاد قانون د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د ۱۴۴۶/۱۱/۲۷ هـ ق نېټې د ۲۴ مې ګڼې فرمان له مخې په یوه مقدمه، ۴ بابونو، ۳ فصلونو ... ۲مخ

مؤسس: عبدالرووف بېنوا
د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز
چهار شنبه د ذوالحجة الحرام ۲۸ مه ۱۴۴۶ق کال، د چنګاښ ٤ مه ١٤٠٤ ل کال، د جون ۲۵ مه ۲۰۲۵م کال، خصوصي ګڼه ۷٤ یمه ، پرله پسې ګڼه ۷۳۷مه، اتمه دوره

## له ترکیې سره د دوه اړخیزو اړیکو د لاپیاوړتیا هڅې



د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي پرون له غرمې مخکې د ترکیې لپاره د افغانستان اسلامي امارت له نوي سفیر شیخ صنیع الله فرهمند سره وکتل.

په دې کتنه کې د ریاست الوزراء اداري مرستیال دې ته په اشارې، چې افغانستان او ترکیه دوه مسلمان او دوست هېوادونه دي او په بېلابېلو برخو کې پیاوړې دیني، تاریخي او کلتوري اړیکې لري ویلي، اړینه ده چې د سفارت مسئولین په کوربه هېواد کې د اسلامي امارت پالیسۍ ته په پام کوښښ وکړي، تر څو د دواړو هېوادونو اړیکې لا پیاوړې شي.

مولوي عبدالسلام حنفي ټینګار کړی، چې د سفارت مسئولین باید هېوادوالو ته د خدماتو په وړاندې کولو کې هم نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړي.

د ترکیې لپاره د اسلامي امارت نوي سفیر ډاډ ورکړی، چې په بېلابېلو برخو کې به د دواړو هېوادونو د اړیکو د پیاوړتیا او په ترکیه کې د مېشتو افغانانو او کډوالو چارو ته د رسېدنې په برخه کې په ټول توان هڅې وکړي.

## چینایي شرکتونه غواړي افغانستان کې د بندونو پر جوړولو پانګونه وکړي

د اوبو او انرژۍ وزارت د پانګونې د جلب او جذب رئیس مولوي رحمت‌ولي رحماني د دغه ریاست د یو شمېر تخنیکي مسئولینو په شتون کې د چینایي شرکتونو له یوې ډلې سره لیدنه کړې ده.

د اوبو او انرژۍ وزارت خبر ورکړی،



چې په دې لیدنه کې د چینایي شرکتونو مسئولینو د ډېرو سرکو له سرچینو څخه د برښنا د تولید او د بندونو جوړولو پروژو کې پانګونې ته لېوالتیا ښکاره کړې ده.

په ورته مهال، د پانګونې د جلب او جذب رئیس په دغې لیدنه کې په افغانستان کې د برښنا انرژۍ د تولید پروژو کې د چینایي شرکتونو د پانګونې د لېوالتیا هر کلی کړی او ویلي یې دي، چې اوس په افغانستان کې له هره پلوه د پانګونې لپاره زمینه چمتو شوې او په دې برخه کې ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د همکارۍ ډاډ ورکوو. ښاغلي رحماني د پانګونې په برخه کې د عملي ګامونو په اخیستلو ټینګار کړی او زیاته کړې یې ده، چې په دې هکله به له یادو شرکتونو سره د پانګونې په موخه د بنسټیزو پروژو لېست شریک شي.

## ناروې: له افغانستان سره بېلابېلو برخو کې مرستو ته دوام ورکوو

د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر ملا خیرالله خیرخواه د افغانستان او ناروې د خپلواک کمېسیون له رئیس بیورن تور ګودال او مل پلاوي سره وکتل. د لیدنې په



پیل کې تور ګودال د کمېسیون د مسئولیتونو په اړه ښاغلي خیرخواه ته معلومات ورکړي دي.

نوموړي ویلي، چې موږ ته دنده سپارل شوې ... ۲مخ

## تره‌خېلو کې د ۱۰۵ میګاواټو په ظرفیت حرارتي دستګاه فعالېږي

د افغانستان د برښنا شرکت مسئولینو ویلي، چې کابل ښار کې د برښنا د پرچاویو کمولو په موخه د تره‌خېلو سیمه کې د ۱۰۵ میګاواټه برښنا د تولید حرارتي دستګاه فعالوي. دوی زیاتوي: د ناڅاپي پرچاویو د مخنیوي لپاره د برښنا په عمومي شبکو کې د اضافه بارو مزیو او ترانسفرمرونو پر بدلون او نوي کولو هم چټک کار روان دی، چې پر مټ به یې له ناڅاپي پرچاویو مخنیوی وشي او د برښنا وېش به هم منظم او پیاوړی شي. برښنا شرکت د هوا په ګرمېدو سره کابل ښار کې د برښنا د پرچاویو د کمښت او مخنیوي په موخه د یادې دستګاه د فعالولو خبر ورکړی دی.

سربېره پر دې له کورنیو سرچینو څخه د برښنا د تولید په لړ کې د سروبي لمریزې دستګاه له لس میګاواټه څخه هم کار اخیستنه پیل شوې ده. مسئولین زیاتوي، هڅې روانې دي، چې له داخلي سرچینو څخه د برښنا د تولید کچه لوړه او تر ډېره هېواد له دې اړخه پر ځان بسیا کړي. دوی له هېوادوالو غوښتي، چې د برښنا په لګښت کې سپما وکړي، تر څو په عمومي شبکو کې پر زیاتو خلکو برښنا ووېشل شي.




## فراه کې د روغتیایي مرکز جوړېدل

د فراه ولایت اناردرې ولسوالۍ کې د ۳۵۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت روغتیایي مرکز له جوړېدو وروسته ګټې اخیستو ته وسپارل شو.

د روغتون جوړولو مسئولین وایي: د یاد روغتیایي مرکز په فعالېدو سره به د یادې ولسوالۍ د ذهکن کلي ۶۰۰ کورنۍ او د شاو خوا کلیو خلکو ته روغتیایي چوپړتیاوې وړاندې شي.



د ذهکن کلي د روغتیایي مرکز جوړولو مسئول هارون حقیقت ویلي: « د دې مرکز ... ۲مخ

## هغو موټرو ته چې رسمي اسناد و نه لري د فعالیت اجازه نه ورکول کېږي



د کورنیو چارو وزارت ویلي، چې د ټرافیک پولیسو له‌خوا په یوه خبرتیا کې د ټولو ټرانسپورټي شرکتونو مالکینو ته خبر ورکول کېږي،چې په ودونو، کوژدو او د خوښیو نورو مراسمو کې د بار وړلو او د مسافرو د لېږد لپاره بې پلېټه او بې اسناده موټر په کرایه ورکول غیر قانوني دي. یاد وزارت زیاته کړې، ټول شرکتونه اړ دي،چې خپلو موټرو ته ژر تر ژره د ټرافیک پولیسو اړوندو ادارو څخه رسمي او قانوني اسناد او نمبرپلېټونه ترلاسه کړي. ټرافیک پولیسو ټینګار کړی، چې پرته له رسمي اسنادو به د موټرو فعالیت ته اجازه ورنه کړي او د سرغړونې په صورت کې به له قانوني چلند سره مخ شي.

## تېره میاشت زرګونو تنو ته د زېږون کارتونو ورکړه

د احصایې او معلوماتو ملي اداري ویلي، چې د روان ۱۴۰۴ کال په غبرګولي میاشت کې د ټول هېواد په کچه لس زره او ۲۰۹ تنو ته یې زېږون کارتونه وېشلي، چې اووه زره او ۲۰۷ یې د لویانو او درې زره او ۲ نور یې د ماشومانو دي.

ارقام ښیي چې د روان کال په غبرګولي کې له ټولو زیات زېږون کارتونه (اووه زره او ۱۵۲) کابل کې وېشل شوي او له کابل وروسته، بلخ د ۵۶۳، ننګرهار د ۵۶۰، خوست د ۴۵۶ او هرات ولایت د ۳۸۰ زېږون کارتونو په وېشلو د جدول په ورپسې کرښو کې راځي. له بل

لوري ارقام څرګندوي چې پنځه زره او ۳۱۰ زېږون کارتونه د مرکز کابل او په ولایتونو کې د اسان خدمت مرکزونو له لارې وېشل شوي او پاتې څلور زره او ۸۹۹ نور یې په مرکز کې د ژوند پېښو د ثبت آمریت




او د ولایتي ریاستونو د حیاتي احصائیو برخو له‌خوا وېشل شوي دي. همدارنګه د احصایې او معلوماتو ملي اداري د ۱۴۰۴ کال په غبرګولي میاشت کې د ټول هېواد په کچه یو زر او ۶۱۹ کسانو ته د مړینې پارچې هم وېشلي، چې له ټولو زیاتې یې په کابل، کندهار، فراه، خوست او پکتیکا ولایتونو کې دي.د یادونې وړ ده، چې د ژوند پېښو د ثبت او د بهرنیو وګړو د چارو ریاست چې د احصایې او معلوماتو ملي اداري په تشکیل کې نوی رامنځته شوی، په هېواد کې د ژوند پېښو (زېږونونو، مړینو، ودونو او طلاق)، د هوایي ډګرونو او رسمي بندرونو له لارې د بهرنیو وګړو د تګ او راتګ د ثبت او د هېواد د تابعیت اخیستلو او پرېښودو د اړوندو خدمتونو د وړاندې کولو مسئولیتونه پر غاړه لري.

## جلال اباد ښار کې د ناحیو شمېر لوړ شو

د ننګرهار ولایت د ښاروالۍ مسئولینو ویلي ښار کې د شته ګڼې ګوڼې او بې نظمۍ د کمښت په موخه یې د ښار په تشکیل کې دوه نورې ناحیې ور زیاتې کړې.

د جلال اباد ښاروالۍ ویاند حامد محمودي ویلي:« له دې مخکې جلال اباد ښار ۹ ناحیې درلودلې او له دې وروسته به ۱۱ ناحیې وي، دغو ناحیو کې ۱۰ مه ناحیه د شیخ مصري په سیمه کې قرار لري او ورسره په څنګ کې د ۱۱ مې ناحیې لپاره د ۹ مې ناحیې ځینې حدود ور جدا کېږي او دا د ۱۱ مې ناحیې حدودو کې ټاکل شوې.» ... ۲مخ



## پروان کې د سړک رغولو پیل

د پروان د کلیو د بیارغونې او پراختیا رئیس عبدالصمد صادق ویلیک د شینواري ولسوالس «کفشان‌دره» کې د شلو کلیو لپاره د ۱۸.۵ کیلومتره سړک د بیارغولو چارې پیل شوې. دی وایي: د سړک رغولو پرمهال به د سړک غاړو ته استنادي دېوالونه او پلچکونه هم په پاخه او اساسي ډول ورغول شي. د دغه سړک په رغولو څه باندې ۱۲ میلیونه افغانۍ لګښت راځي،چې د نړیوال بانک له لوري ورکول کېږي. د دغې پروژې د تطبیق پر مهال به د شینواري ولسوالي لسګونو اوسېدونکو ته د کار زمینه هم برابره شي او شاوخوا ۸ زره کورنۍ به له دغه سړکه ګټه پورته کړي. د پروان د شینواري ولسوالۍ «کفشان‌دره» ګڼ نفوسه او صعب‌العبوره سیمه ده،چې تېرو کلونو کې یې پراختیا ته ډېره کمه پاملرنه شوې ده.




## د غیر معیاري وارداتو د مخنیوي چارې دې لا ګړندۍ شي!!

په یو هېواد کې د اقتصادي بنسټونو ثبات، د بازار د شفافیت تضمین او د خلکو د روغتیا خوندي پاتې کېدل له هغو عواملو څخه دي، چې پرته له معیاري تګلارو، باوري سیستم او علمي پالیسۍ یې تحقق ناممکن دی. افغانستان چې له تېرو لسیزو راهیسې له بې‌نظمۍ، غیر معیاري وارداتو او غیر مسئولانه بازارونو کړېږي، اوس داسې هیلې او امیدونه راټوکېدلي، چې د کیفیت او معیار پر بنسټ بنسټیز ګامونه اخیستل کېږي. له همدې جملې څخه، روانه اونۍ د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال په مشرۍ د سټنډرډ عالي شورا له‌خوا د نفتي توکو د کیفیت لپاره شپږ سټنډرډونه او د لسګونو ازمايښتي کړنلارو تصویبول یو مهم تحول بلل کېږي. د دغه اقدام اصلي لامل د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) حکم و، چې د بې‌کیفیته تېلو د مخنیوي لپاره یې د نویو معیارونو جوړول لازمي وګڼل. دا چاره په خپل ذات کې یوه ملي اړتیا او ستر مسئولیت دی، چې اسلامي امارت پر غاړه واخیست. تېل، چې همدا اوس هم د هېواد د تولید، ټرانسپورټ، کرنې او انرژۍ اساسي سرچینه ګڼل کېږي، که بې‌کیفیته وي، نه یوازې د ماشینونو تخنیکي ستونزې زیاتوي، بلکې د چاپېریال د ککړتیا، تنفسي ناروغیو او حتی د سوداګریزو اړیکو د ګډوډۍ لامل هم ګرځي. د معیاري نظام د نشتون له امله د هېواد بازارونه له لسیزو راهیسې د غیر معیاري وارداتو قرباني دي. هغه مواد چې د نړۍ په نورو هېوادونو کې غیرقانوني ګڼل کېږي، په اسانۍ سره زموږ بازارونو ته را داخلېږي او د خلکو له اقتصاد، روغتیا او باور سره لوبې کوي. د همدې بې‌نظمۍ د مخنیوي لپاره اسلامي امارت هڅه کړې، چې د سټنډرډ عالي شورا له لارې یو داسې بنسټیز سیستم رامنځته کړي، چې ټول واردات، تولیدات او عرضه‌شوي محصولات د یوې مشخصې تګلارې او علمي چوکاټ له مخې تنظیم شي. د نفتي توکو لپاره د سټنډرډونو وضع کول په مهمو ابعادو کې پراخې اغېزې لري. یو له دغو ابعادو څخه اقتصادي ثبات دی، ځکه چې د معیاري تېلو واردات به د ماشینونو، وسایطو او صنعتي تجهیزاتو د خرابۍ مخه ونیسي، د تېلو د مصرف کچه به کنټرول کړي او د بازار نرخونه به هم متوازن وساتي. بله مهمه ګټه یې د خلکو د روغتیا خوندي کول دي، ځکه چې د خرابو تېلو سوځول د زهرجنو ګازونو د خپرېدو اصلي سرچینه ده، چې د سږو، تنفس، زړه او حتي دماغو لپاره وژونکې پایلې لري. د کیفیت د معیارونو پلي کېدل یوازې دا نه چې داخلي بازار به اصلاح کړي، بلکې زموږ کورني صنعتونه به هم اړ کړي، ترڅو د نړیوالو معیارونو مطابق خپل تولیدات تنظیم کړي. دا حالت به په طبیعي ډول د کورنیو تولیداتو کیفیت لوړ او د سیالۍ نوی چاپېریال به رامنځته کړي. له دې سره ـ سره، د صادراتو لپاره هم لاره هوارېږي، ځکه چې هېڅ نړیوال بازار د بې‌کیفیته محصولاتو منلو ته تیار نه دی. معیارونه هغه ژبه ده، چې نړیوال بازارونه پرې خبرې کوي او که افغانستان وغواړي ځان د سیمې او نړۍ د اقتصاد برخه وګرځوي، باید دا چاره عملي کړي. ټینګ باور دی، چې د نفتي توکو لپاره د معیاري سټنډرډونو تصویب د اسلامي امارت له لوري یو غوره اقدام دی، چې نه یوازې د هېواد اقتصادي ثبات ته لاره هواروي، بلکې د عامې روغتیا، ملي باور، صادراتو او صنعتي ودې لپاره هم یو مهم بنسټ جوړوي. که دا معیارونه په دوامدار ډول تعقیب او پلي شي، نو افغانستان به ډېر ژر له یو غیر معیاري مصرفي هېواد څخه، یو معیاري، تولیدي او صادراتي هېواد ته واوړي، چې دا د ګران افغانستان او مؤمن ملت هیله او ارمان دی.

والسلام علیکم و رحمة‌الله و برکاته!

**د درملو د قاچاق ...**

او ۳۴ مادو کې د نوموړي له لوري توشېح شوې دي.

نوموړي زیاته کړه، چې د عامې روغتیا وزارت شپه او ورځ کوښښ کوي، تر څو داسې روغتیایي سیستم چې خود کفا، پایدار او د هېوادوالو روغتیایي ستونزو ته ځواب ویونکی وي رامنځته کړي، تر څو وکولای شو ولسونو ته با کیفیته، ارزانه او غوره خدمات وړاندې کړو.

د چارو اداري لوی رئیس شیخ انورالحق انور وویل: د اسلامي امارت په واکمنېدو سره هرې برخې ته د پام وړ خدمات تر سره شوي، په ځانګړې توګه د روغتیا او اقتصاد برخې ته، ده د خوړو او درملو پر ارزښت هر اړخیزې خبرې وکړې.

ښاغلي انور زیاته کړه: هغه خلک چې قاچاق کوي، باید نوموړي قانون پرې سل په سلو کې تطبیق شي تر څو له قاچاق څخه لاس واخلي.

د خوړو او درملو معینیت مرستیال مولوي حمدالله زاهد وویل، چې د عالیقدرامیرالمؤمنین (حفظه الله ) تعالی په لار ښوونه به یاد قانون پر ټولو یو شان تطبیق شي.

د لایف پرل کار خونې رئیس ډاکټر احمدالله ویلي: د اسلامي امارت مشرانو ته اطمینان ورکوم چې د درملو په برخه کې به افغانستان پر ځان بسیا شي او له هېوادوالو څخه غوښتنه کوم چې له داخلي تولیداتو څخه استفاده وکړي.

# مبارزه قاطع علیه کشت و قاچاق موادمخدر در کشور

**مجتبی**

پنجم سرطان مطابق ۲۶ جون مصادف است با روز جهانی مبارزه علیه موادمخدر، ما در حالی از این روز یادآوری میکنیم که کشور های جهان از گسترش مواد مخدر در افغانستان شاکی اند.

این سرزمین در چند سال اخیر خصوصاً در زمان اشغال افغانستان توسط امریکا و همپیمانانش با چالش های بزرگی مواجه ساخته شده بود، آنچه قابل تأمل در این زمینه است،افغانستان به عنوان بزرگترین کشور تولید کننده کوکنار و موادمخدر به کشورهای جهان مطرح شده بود و در بررسی‌های صورت گرفته از جانب نهاد های بین المللی گفته می شد که سالانه هزاران تن موادمخدر در افغانستان تولید و توسط مافیای بین المللی موادمخدر به کشور های جهان از جمله کشورهای غربی انتقال می یافت. با کمال تأسف از این وضعیت نه تنها مردم افغانستان بلکه همسایه گان این کشور نیز با مشکلات و خسارات گسترده روبه رو شده بودند. فقر گسترده و موجودیت بیش از سه میلیون معتاد در افغانستان با فساد زیاد در دستگاه حکومت پیشین تنها بخشی از مشکلات ناشی از تولید موادمخدر بود، اما آنچه که قابل نگرانی و حتا تعجب در پروسه عایداتی از این پدیده خطرناک می باشد، این است که از عواید ۶۷ میلیارد دالری از کشت موادمخدر فقط سه در صد از سود موادمخدر به جیب زارعان کشت کوکنار می ریخت و بقیه نصیب مافیای بین المللی موادمخدر می شد. قرار گزارش ها اکثریت از مقامات عالی رتبه دولت پیشین افغانستان نیز در تولید و قاچاق موادمخدر دست داشتند.این گونه گزارش ها در مورد موادمخدر نشان میدهد که این معضل بزرگ نه تنها به یک بحران داخلی و منطقوی،بلکه به یک بحران جهانی تبدیل شده بود و اگر تلاش های جدی به خاطر جلوگیری و منع کشت و قاچاق موادمخدر از سوی امارت اسلامی افغانستان صورت نمی گرفت، بدون شک عواقب و پیامدهای بیشتر رخ می داد.

بدین وسیله امارت اسلامی افغانستان با صدور فرمانی کشت، تولید و قاچاق مواد مخدر را ممنوع قرار داده است . نظر به این فرمان امارت اسلامی عزم راسخ دارد که این پدیده مزمن سرطانی را نیست و نابود کند.

رهبری امارت اسلامی افغانستان در جستجوی بدیل آن است که به عوض کشت کوکنار و بنگ دهاقین را به کشت محصول حلال کمک نماید.

واقعاً در افغانستان کشت مواد مخدر، طی جنگ های تحمیلی بیرونی ها و در مدت بیست سال حضور نظامی امریکا و همپیمانانش شیرازه امنیت و مصونیت را از هم ریخت، اشخاص و افراد معلوم الحال و زورمندان مسلح زمام امنیت مرکز و اکناف کشور را بدست گرفتند و این بلای خانمانسوز در کشور عزیزما سراسری گردید. با تأسف که دربیست سال اشغال، افغانستان بالا ترین سطح کشت و تولید موادمخدر را داشت. اگر چه طور نمایشی طی مدت گذشته چندین نشست، به غرض مبارزه با این پدیده شوم برگزارمی شد، اما نتیجه مثبت در قبال نداشت. زیرا به همگان هویداست که کشت و قاچاق این مواد نه تنها در سطح یک ولایت و یا یک کشور مطرح بود. بلکه مافیای بین المللی و حلقات بزرگ مافیایی در آن دخیل بودند. اینکه ارگانهای امنیتی کشور در طول بیست سال به در یافت سر چشمه و منبع اصلی این مواد موفق نگردیده اند.

روی همین معضله، امکانات محو و کاهش این مواد غیر ممکن بود. بخاطر این که تا زمانی که مافیای مواد مخدر شناسایی و راهکارهای عملی در جهت کاهش آن از جانب حکومت و مسئولین امور بصورت قاطع رویدست گرفته نمی شد. یقیناً که در این مدت گذشته میلیارد ها دالر امریکایی حیف و میل شد ولی گام های استوار و قاطع در جهت محو این پدیده شوم گرفته نشد. زیرا حلقات ذیربط در قاچاق این مواد، حتی الامکان می‌کوشیدند تا به هر وسیله ممکنه زمینه تماس و معامله را با ارگانهای امنیتی برقرار نمایند تابتوانند به انتقال چنین مواد، بدون دغدغه و دردسر بپردازند و می‌خواستند نفوذ مافیایی شانرا در عرصه قدرت و سیاست نیز مستحکم سازند تا زمینه فعالیت آزاد مافیایی را در کشور خوبتر و بهتر فراهم سازند. متاسفانه در وطن ما موجودیت چنین اشخاص بی ایمان در راس جمهوریت و تأثیرات اشغال و تجاوز تاثیر خود را داشت.

پس واضح است که دستان ناپاک مافیای بین المللی در قضایای موادمخدر افغانستان خصوصاً دست های خارجی ها دخیل بود. مردم افغانستان طی بیست سال گذشته شاهد اند که از جانب مسئولین، موسسات و انجوهای خارجی که در ظاهر امر آنان جلسات و گردهمایی های بزرگ را دایر می کردند که گویا ... ص۳

د یادونې وړ ده، چې په هېواد کې د درمل جوړولو د شته ۷۲ کارخونو له ډلې څخه څه وخت وړاندې ۳ کارخونو(ملي شفاء فارما، سنوو فارما او ټي جي ال) ته ( جي‌ایم پي) تصدیق پاڼې هم ورکړ شوي وي.

**سمیع الله مومند**

**ناروې: له افغانستان ...**

تر څو له ۲۰۱۵ زېږدیز کال څخه تر ۲۰۲۱ پورې او له هغې وروسته په افغانستان کې د ناروې شاهي دولت د سیاسي او بشري مرستو او په نورو برخو کې فعالیتونه وارزوو.

ښاغلي ګودال ژمنه کړې، چې هېواد به یې له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

ملا خیرالله خیرخواه د ناروې شاهي دولت پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ ویلي: اوسنی افغانستان له ۴۰ کلونو وروسته یو ځواکمن نظام لري، چې په ټول هېواد کې یې امنیت تأمین کړی او خلک د دې هېواد هرې خوا ته په ازاده توګه سفر کولای شي.

نوموړي زیاته کړې، چې د افغانستان اسلامي امارت له لوري د هېواد په بېلابېلو سیمو کې پراختیایي او رغنیزې پروژې روانې دي او د نشه‌یي توکو پر ضد جدي مبارزه کېږي.

په پای کې دواړو لوریو د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو پر پیاوړتیا او پراختیا ټینګار کړی دی.

**فراه کې د روغتیایي ...**

لګښت ۳۵۰ زره امریکایي ډالره دي او دې مرکز کې به د عمومي داخلې، زېږون، د ماشومانو او نورو څانګو کې روغتیایي خدمات وړاندې کړي.»

د سیمې اوسېدونکي د روغتون له جوړېدو خوښ دي، ځکه روغتیایي خدماتو ته د لاسرسي برخه کې شته ستونزه څه ناڅه حلېږي.

د انار درې ولسوالۍ اوسېدونکی غلام محمد وايي:« د دې کلینیک په جوړېدو سره به د خلکو ډېرې ستونزې حل شي. مخکې به مو په سړې او ګرمې هوا کې خپل ناروغان د فراه مرکز ته لېږدول. زموږ ذهکن کلي کې ۶۰۰ کورنۍ دي او ترڅنګ یې شاوخوا ۲۰ کلي دي. دوی به ټول له یاد مرکزه ګټه واخلي.»

د انار درې ولسوالۍ یو بل اوسېدونکي عبدالله ویلي:« هیله من یم چې د ولسوالۍ مرکز او نورو کلیو کې هم سوداګر همت وکړي او دا ډول کلینیکونه جوړ کړي او هېواد ته ابادي راوړي.»

خو ورته مهال مسئولین ډاډ ورکوي،چې د دوی لپاره یوازې ودانۍ مهمې نه دي، بلکې د روغتیایي خدماتو وړاندې کول یې لومړیتوب دی.

د فراه د والي ویاند عبدالمالک اسامه وايي:« موږ پر ډاکټرانو او کاري پرسونل غږ کوو،چې کوښښ وکړي پر وخت د ناروغانو او مراجعینو درملنه وکړي.»

څه موده وړاندې د عامې روغتیا وزارت د پلان او پالیسۍ معین فراه ته په سفر کې د یاد ولایت ۵ ولسوالیو کې د ۴۰ بستریزو روغتونونو د جوړولو ډاډ ورکړی و.

**جلال اباد ښار کې ...**

جلال اباد ښاریان په ښار کې اوسنۍ ګڼې ګوڼې او بې نظمۍ ته په کتو د مسئولینو د دغه اقدام هرکلی کوي او د یادو ناحیو د چارو د ژر پیل غوښتنه کوي.

په همدې حال کې د ښاروالۍ مسئولین د ښاري نظم ډاډ ورکوي او زیاتوي چې د ښاري نظم ساتنې لپاره یې د څارنې ټیمونه ګومارلي.

د جلال اباد ښاروالۍ ویاند حامد محمودي ویلي:« ځینې پلې لارې چې پخوا خلکو بندې کړې وې هغه اوس خلاصې شوي او ښنګ کې د زرګرانو کوڅه چې دلته ۷۵۰ غرفې ایښودل شوې وې د ریاست الوزراء د حکم پر اساس دغه غرفې پورته شوي دي. په راتلونکې کې د جلال اباد ښاروالۍ پلان لري هغه غرفې چې بېځایه ایښودل شوي هغه پورته کړي ترڅو ښاریان په ښار کې په اسانۍ سره تګ راتګ وکړي.»

جلال اباد ښار کې دا دوه ناحیې داسې مهال زیاتېږي چې په تېرو ۹ ناحیو کې ځینې یې د دې ولایت مرکزي ولسوالیو ته غځېدلي او د سیمو اوسېدونکي په کې ترسره کېدونکي خدمات پوره نه بولي او تمه ښیي چې د دې نویو ناحیو په زیاتیدو سره به د نورو هغو امکانات هم ډېر شي.

**د اداري چارو د لا ښه ...**

د هېواد په رسمي ژبو د لیکلو قواعدو او د اداري چارو په ښه والي کې د اجرائیه مدیرانو د نقش په اړه موضوعات له ګډونوالو سره شریک شوي دي.

د باختر اطلاعاتي آژانس د خبر له مخې؛ په همدې مناسبت جوړه شوې غونډه کې چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت یو شمېر رئیسانو هم ګډون کړی و؛ د ګرځندوی، مالي او اداري چارو معین مولوي قدرت الله جمال، د وزارت د کارکوونکو د ظرفیت په لوړولو کې د دغه پروګرام ترسره کول یو ښه اقدام وباله او له اجرائیه مدیرانو څخه یې وغوښتل چې له خپلې پوهې او تجربې څخه دې د اداري چارو د لا ښه والي لپاره ګټه واخلي.

مولوي جمال هغوی ته لارښوونه وکړه چې خپلې چارې دې په بشپړ دقت او سمه توګه ترسره کړي؛ ځکه په ښه توګه د اداري چارو ترسره کېدل، د هېواد د آبادۍ او پرمختګ سبب کېږي.

دغه راز د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د دفتر رئیس مولوي احسان الله حسان، د اداري چارو د ښه ترسره کېدو پر اهمیت خبرې وکړې او د وزارت له اجرائیه مدیرانو څخه یې وغوښتل چې د اسلامي نظام لپاره شته قوانین او د عالیقدر امیرالمؤمنین «حفظه‌الله» ټول فرامین او احکام په پام کې ونیسي او د هغو په رڼا کې خپلې چارې په سمه توګه ترسره کړي.

یو شمېر ګډونوالو هم، د یاد پروګرام د ترسره کولو په خاطر د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د کارکوونکو چارو ریاست څخه د مننې ترڅنګ؛ د دغه شان روزنیزو پروګرامونو د دوام غوښتنه وکړه.

د غونډې په پای کې، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د مسئولینو له لوري د پروګرام پر ګډونوالو تصدیق‌پاڼې هم ووېشل شوې.

**په کنمینګ نندارتون ...**

شوې دي .د افغانستان د غالیو د تولیدوونکو او صادروونکو ټولنې په باور، په دغه راز نندارتونونو کې د افغان سوداګرو فعال ګډون د غالیو سکټور د ودې لپاره یو مناسب فرصت دی. د افغانستان د غالیو د تولیدوونکو او صادروونکو ټولنې اجرائیوي رئیس عبدالمنان حیدري ویلي: «هغه کسان چې چین ته تللي وو، دا فرصت یې درلود، چې په دوو نندارتونونو کې ګډون وکړي، له همدې امله هغوی کولای شي لا ښه فعالیت وکړي، لا ښې اړیکې جوړې کړي او لا ښې هوکړې او تړونونه لاسلیک کړي.»د دغه نندارتون په لړ کې د رئیس‌الوزراء اداري مرستیال عبدالسلام حنفي ویلي، چې اسلامي امارت له چین او د سویلي اسیا له هېوادونو سره د سوداګریزو اړیکو د پراختیا غوښتونکی دی. ښاغلي حنفي ټینګار وکړ، چې افغانستان د منځنۍ، سویلي او ختیځې اسیا ترمنځ د اړیکو پر پله بدلېدای شي.

**غزني کې د خوراکي ...**

یو شمېر کسان هم نیولي او له لیکلي ژمنلیک اخیستو وروسته به په ضمانت بېرته خوشي شي.جلالزي ویلي،چې تر اوسه یې له سلو ډېرې هټۍ تړلې او خلکو ته یې ډاډ ورکړی،چې د احتکار مخه نیول شوې او له سرغړوونکو سره به د قانون مطابق چلند وشي.

**بدخشان کې د چت ...**

غوښتي، چې ځپل‌شویو کورنیو ته پاملرنه وکړي او د ویجاړو کورونو ارزونې ته لومړیتوب ورکړي ترڅو د ورته پېښو مخه ونیول شي. بدخشان کې له دې وړاندې هم د واورې او بارانونو له امله د کورونو د نړېدو لسګونه پېښې شوې،چې له امله یې هېوادوالو ته مرګ‌ژوبله اوښتې ده.

**هرات کې د خطاطۍ ...**

او ویلي یې دي، چې د هنرمندانو اثار د کتاب په بڼه چاپولو ته اړتیا ده. په هرات کې د ترکیې د تیکا دفتر مشر عرفات دنیز ویلي، چې هڅه کوو، ترڅو د دواړو هېوادونو د ګډو کلتوري ارزښتونو د پېژندلو لپاره نور اړین اقدامات هم وکړو.د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د مسئولینو په خبره، یاد نندارتون څلور ورځې دوام لري او یوه ورځ د ښځو لپاره ځانګړې شوې ده.

**لوګر کې د هندوانو ...**

چې د لوګر د کروندګرو د هندوانو محصولاتو ته مناسبه بازارموندنه وکړي.

د لوګر د هندوانو یوه بزګر رسول خان ویلي: د هندوانو حاصلات په ټولیزه توګه د سنبلې «وږي» او میزان «تلې» په میاشتو کې پخېږي او په یو جریب ځمکه کې ټولټال یو کیلوګرام تخم شیندل کېږي.

ده ویلي: دغه ولایت کې د هندوانو کرکیله د پخوا په پرتله زیاته شوې، خو په لاس راغلي محصولات مناسب بازار نه‌لري او یو من هندوانه په بازار کې په ۵۰ افغانیو پلورل کېږي.

**غزني کې د کرېکټ ...**

ترسره کېږي. نوموړی هیله‌من دی، چې له دې لارې به ځوان استعدادونه د افغانستان کورني کرېکټ ته ور وپېژندل شي.

بله خوا، د کرېکټ لوبغاړي هم له دغو سیالیو خوښ دي او غوښتنه کوي، چې ورته سیالۍ باید لا پراخې شي.

**کندز کې له کورنی ...**

له تېرو نږدې څلورو کلونو راپه دې خوا په بېلابېلو ولایتونو کې یو شمېر نارینه او ښځینه له کورنیو بندخونو ازاد او ژغورل شوي دي. د ویلو وړ ده چې په هېواد کې دا ډول پېښې تر ډېره د کورني تاوتریخوالي، ناسم‌پوهاوي او نورو ټولنیزو ستونزو له امله رامنځته کېږي.

# افغان اعلانات



## دعوت به داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تادر داوطلبی پروژه«(تهیه و تدارک ۲۵ عراده موتر سایکل برای گمرک ها) دارای نمبرتشخیصیه MOF/1404/NCB/G-1728
که به روش داوطلبی باز صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه ، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.
تاریخ مشخص جلسه قبل از داوطلبی: تاریخ ۱٦/سرطان/۱٤۰٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۲٦/ سرطان/۱٤۰٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تضمین آفر : به مبلغ ٤۰,۰۰۰ (چهل هزار) افغانی میباشد.
آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی، ریاست محترم عمومی اداره امور ۱.۱.۱ (https://tenders.ageops.af)
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦
آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمیشود.

## اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود:
ریاست تدارکات ملی، ریاست عمومی اداره امور امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد تا به نمایندگی از اداره محترم شاروالی کابل قرارداد پروژه: ساختمان توسعه سرک اعتبار از چهارراهی قصر دارالامان به استقامت پل گلباغ الی سرک کابل لوگر در منطقه چهل دختران (لات سوم) تحت شماره داوطلبی NPD/KM/1404/NCB/W-208/REBID
را به شرکت ساختمانی و سرکسازی آریوب سپین غر دارای نمبر جواز D-۲٦۷۲۸ و آدرس خانه نمبر ۱۵، سرک ۳ شیرپور، کابل- افغانستان؛به قیمت مجموعی مبلغ (۳۱۵,٤۷۳,۱۳۰) سه صدو پانزده میلیون و چهارصدو هفتادوسه هزارویک صدو سی)،افغانی اعطا نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات به ریاست تدارکات ملی ارائه نمایند.
آدرس: آمریت تسهیلات تدارکاتی، معاونیت تخنیکی، ریاست تدارکات ملی، ریاست عمومی اداره امور، پشتونستان وات، کابل – افغانستان.
یادداشت: این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

## اعلان دعوت به داوطلبی

ریاست تدارکات وزارت صحت عامه از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی پروژه ترمیمات اساسی مدیریت دیتابیس تحت ریفرنس نمبر
MOPH/1404/NCB/W-1610
اشتراک نموده و سافت شرطنامه را از سایت tenders.ageops.af بدست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشراعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز چهار شنبه تاریخ ۱٤٤۷/۰۱/۱۹ هـ ق که مصادف به ۱٤۰٤/۰٤/۲۵ هـ ش میباشد در اطاق آفرگشایی ریاست تدارکات وزارت صحت عامه واقع چهاراهی صحت عامه، ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.
تضمین آفر بصورت بانک گرنتی از یک بانک با اعتبار مبلغ (۱۸,۰۰۰) هجده هزار افغانی بوده و جلسه آفرگشایی به ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز چهار شنبه تاریخ ۱٤٤۷/۰۱/۱۹ هـ ق که مصادف به ۱٤۰٤/۰٤/۲۵ هـ ش در اطاق آفرگشایی ریاست تدارکات وزارت صحت عامه واقع چهاراهی صحت عامه، تدویر می گردد.

## د داوطلبی خبرتیا

د تدارکاتو ریاست ټولو په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي تر څو د ډیټابیس مدیریت په بنسټیزه توګه بیارغوني پروژې چې د
۱٦۱۰-NCB/W/۱٤۰٤/MOPH
ریفرنس ګڼې درلودونکي ده، د داوطلبۍ پروسه کې ګډون وکړي او د اړونده شرطپاڼې سافټ د tenders.ageops.af سایت څخه لاس ته راوړي، د تدارکاتو قانون، کړنلارې او د شرطپاڼې شرایطو سره سم دې خپل آفرونه د اعلان خپرېدو له نېټې څخه تر چهار شنبې ورځې ۱٤٤۷/۰۱/۱۹ ه ق چې د ۱٤۰٤/۰٤/۲۵ ه ش نېټې سره سمون لري ترتیب او په یاده نېټه د سهار په لس بجو د عامې روغتیا وزارت تدارکاتو ریاست ته، چې د عامې روغتیا څلور لارې وزیر محمد اکبر خان کابل – د تدارکاتو ریاست د آفر پرانستنې خونې ته وسپاري. ناوخته رسیدونکي او انټرنیټي آفرونه د منلو وړ نه دي د آفر تضمین د (۱۸,۰۰۰) اتلس زره افغانیو په ارزښت د بانک ګرنټي په بڼه دی او د آفر پرانستې غونډه به په یاده نېټه د عامې روغتیا وزارت د تدارکاتو ریاست د آفر پرانستې په خونه کې تر سره کیږي

## مورد تصحیح تاریخ اعلان داوطلبی

قبلاً ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه بتعداد (۱۱) باب دوکاکین واقع ناحیه اول و (۱٦) شهر کابل که بتاریخ ۲/ سرطان / ۱۴۰۴ الی ۲۳/ سرطان/۱۴۰۴ سهواً برای مدت (۲۱) روز در روزنامه انیس بنشرسپرده است. از اینکه تاریخ اعلان متذکره ۲/ سرطان /۱۴۰۴ الی ۱۴۰۴/۴/۸ تاریخ برای مدت (۷) روزبوده مجلس داوطلبی آن بتاریخ ۱۴۰۴/۴/۹ به ساعت(۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.
تحصیح خوانده شود

## اعلان مفقودی

یک قطعه سند ملکیت زمین دارای نمبر ۲٦۴۱ از طرف شاروالی به اسم محمد کریم ولد محمد اگل واقع قلعه زمان خان مفقودگردیده از اعتبار ساقط است.۱۹٦۷

## اعلان مفقودی

یک قطعه سند ملکیت زمین دارای نمبر ۲۳۹۲ پروژه توسعوی رحمن مینه ناحیه ۸ به اسم محمد عثمان ولد میرزمان ولدیت محمد اکرم مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۱۹۵۰

## اعلان مفقودی

یک قطعه سند ملکیت زمین دارای نمبر ۱۳۹۲۴ واقع خیرخانه از طرف شاروالی کابل به اسم سید عزیز ولد سید نورخان ولدیت سید نورشاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۱۹٦۵

## اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز وکالت دفاع شماره ۴۵۲٦ مورخ ۱۴۴۵/۸/۱۷مربوط محترم حبیب الرحمن آرمان فرزند حاجی ابراهیم که شماره متذکره نیز درج آن میباشد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشند.۱۹٦۹

## اعلان داوطلبی

موضوع: تهیه و تدارک ادویه جات ضرورت شفاخانه تدریسی میوند، بابت سال مالی ۱٤۰٤.
ریاست شفاخانه تدریسی میوند از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی باز؛ پروژه ادویه جات ضرورت شفاخانه تدریسی میوند، اشتراک نموده و نقل شرطنامه را از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ روز تقویمی از مدیریت عمومی تهیه و تدارکات این شفاخانه در اوقات رسمی بدست آورند. شرطنامه متذکره را مطالعه و آفرخویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیریش نمی باشد. تضمین آفربه صورت تضمین بانکی بوده و جلسه آفرگشایی به روزتعین شده مندرج شرطنامه ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر، در ریاست این شفاخانه برگزار میگردد.۱۹۷۲

## اعلان مفقودی

یک قطعه قرار خط افغان تری سنتر به اسم رییس مراد ولد محرم علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۱۱۱٦۱

## اطلاعیه لیلام

ریاست عمومی تربیت بدنی ، ورزش والمپیک تعداد دو عراده وسایط داغمه خویش را از طریق لیلام به تاریخ ۱۴۰۴/۴/۱۷ به فروش میرساند، اشخاص و موسسات که خواهش اشتراک در داوطلبی را داشته باشند به روز معینه با ۱۵ فیصد پول تضمین مراجعه نمایند.۱۹۷۹

## اطلاعیه مفقودی

یک قطعه ترجمه انگلیسی تذکره تابعیت به اسم محمد فرزند محمد عیسی مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.۱۹۵٦

## اطلاعیه مفقودی

یک قطعه قباله شرعی نمبر ۱۵۲/٦۹۲ مورخ ۱۳۴۳/۹/۳ مرتبه محکمه ولسوالی بگرامی به اسم اسد الله فرزند اول گل ولدیت شاه وزیر جایداد واقع شاه شهید مقابل مکتب ابتدائیه بی بی شمسو ناحیه هشتم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۸۲

## اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم اسد الله فرزند سید گلاب یک عراده موتر پلیت ۱۴۴۳۲ بس کابل نوع آستانه بس کوریائی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمد احسان فرزند غلام حیدر بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۹۵۱

## اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم سید حسیب الله فرزند سید حبیب الله یک عراده موتر پلیت ۱۵۱۹۲- بس کابل نوع آستانه بس کوریائی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمد احسان فرزند غلام حیدر بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۹۵۳

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد سته فروشی وسایط نقلیه دارای سریال نمبر ۱۲۰۰٦۱ الی ۱۲۰۰۹۰ مربوط دفتر رهنمای معاملات حمزه سادات مفقود گردیده و فاقد اعتبار قانونی می باشند.۱۹٦۰

## اعلان داوطلبی

وزارت ترانسپورت و هوانوردی، مساعت (٤) متر مربع جای را به منظور فعالیت عریضه نویسی و فوتوکاپی اسناد واقع محوطه وزارت ترانسپورت و هوانوردی به اجاره می دهد.
اشخاص حکمی و حقیقی که خواهش به اجاره گرفتن مساعت متذکره را از طریق پروسه مزایده داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۷ روز درخواست های خویش را به آمریت املاک، ریاست املاک و خدمات، وزارت ترانسپورت و هوانوردی واقع انصاری وات کابل بسپارند، شرطنامه برای متقاضیان در بدل مبلغ ۳۰۰۰- افغانی بدون باز پرداخت توزیع می گردد.

## موضوع: په بلخ ولایت کې د مزارشریف پښتنی بانک د ملکیت لوړ ولو د داوطلبی خبرتیا

پښتنی بانک په پام کی لری چی په بلخ ولایت مزار شریف ښارلومړی ناحیه کی په خپل ملکیت خصوصی مشارکت لـه لاری داوطلبی ته وسپاری او په پام کی لری چی په یاده ساحه کی چی ۳۵۷۲ مترمربع مساحت لری چی د یاد ساحیی په ٪ ۷۰ کی ۲ تهکوی او ۹ منزل چی ۱۱ پوړیزی سوداګریز او هستوګنیز مارکیت جوړکړی هغه داوطلبان چی په شرایط برابر وی اوغواړی چی په یاد ملکیت باندی پانګونه ترسره کړی کولی شی چی د اعلان د ورځی څخه ورسته ۱۵ ورځو موده کی شرطپانه د پښتنی بانګ له مرکزی دفتر املاکو لوی مدیریت او د مزار شریف ښار د پښتنی بانک ولایت څانګی څخه د ۳۰۰۰ افغانیوپه بدل ګی ترلاسه کړی
داوطلبان دی خپلی طرحی او اسناد د آفر دخلاصونی په ورځ له ځان سره یوځای راوړی او د آفر دخلاصونی له ورځی څخه مخکی اسناد نه اخستل کیږی ۱۹۵۸

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم الطاف قادری فرزند عبدالقادر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳٦۸

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد جواد رضایی فرزند حبیب الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳٦۷

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالمنان فرزند عبدالشکور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۰۰۷

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مبرور احمد سید زاده فرزند سید احمد خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳٦۸

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم پیر محمد ترکی فرزند نور محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۰۰۹

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم رحمت الله حیدری فرزند محمد ظاهر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۰۱۱

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم همایون شکوری فرزند محمد ابراهیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳۷۱

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فضل الحق اوریا خیل فرزند اسرار الحق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳۷۰

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد انور رسولی فرزند عبدالرسول مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳۷۲

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حمید الله ستارزی فرزند عبدالستار مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳٦۹

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عثمان خمکنی فرزند میا خیل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳۳۴

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم زرمینه دوستوخیل فرزند بهرام جان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳۳۳

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ابوذر حسینی فرزند محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۹۹۸

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم باز محمد عادل فرزند غزنی محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳۵۸

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد غدیر ملکی فرزند ضیاء الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳۵۷

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم داود نوری فرزند حسن علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳۵٦

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم هما احمدی فرزند سید احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳۵۵

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد اسحق رضایی فرزند رضا خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳۵۴

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ابرار مراد فرزند حاجی میرآغا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳۵۳

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نجیب الله فرزند حبیب الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳۵۱

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمد ضیا غلامی فرزند عوض علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳۵۰

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالبشیر پاینده فرزند محمد عثمان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳۴۹

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شیرو الله نیازی فرزند ولی محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۷۳٦

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد اشرف سیدی فرزند محمد سید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۷۳۷

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نجیب الله یزدانی فرزند سید جان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۴۱۰

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد نبی محمدی فرزند شاولی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۷۳۳

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حمید الله امیری فرزند امر الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۷۳۴

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد رضایی فرزند عیدی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۷۳۵

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بانو عسل احمدی بنت بشیر احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۴۲۴

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نجم السما احمدی بنت بشیر احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۴۲۵

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ارشاد صافی فرزند غلام محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳۹۸

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم میرویس فرزند محمد گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳۸۹

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی محمد صادقی فرزند سرور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۰۷٦

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عزیز اکبری فرزند خدا داد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۴۰۰۲

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم امر الدین شینواری فرزند زرگل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۴۳۵

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ضیاو الدین شینواری فرزند زر گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۴۳٦

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم وحید احمد محمدی فرزند غلام سرور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۴۳۴

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شیر آقا صالحی فرزند آقا گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۴۳۳

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نور الله فرزند فضل احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۱۲۴

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم امین الله حسینی فرزند سید شاه بقای مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۴۳۲

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم گل محمد محمدی فرزند محمد علم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۴۲۸

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مسرت خان ویاړ فرزند سلام خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۴۳۱

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد رضاء محمدی فرزند محمد علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۱۲۳

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالواحد خان فرزند حاجی الله جان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۴۳۰

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فضل حق فرزند حاجی عبدالهادی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۴۲۹

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عید محمد پوپل فرزند نور محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۱۱۴

## مبارزه قاطع علیه کشت ...

در محو و کاهش موادمخدر در افغانستان می‌کوشند، ولی با کمال تأسف که تدویر همچو جلسات فقط و فقط تظاهر و ضیاع وقت چیزی دیگری در پی نداشت.اگر واقعاً مسئولین حکومت پیشین و موسسات خارجی کمک کننده در این راستا می‌خواستند که این پدیده شوم محو شود، به جای اینکه کمک ها را در حلقوم موسسات، انجوها و دولت بی مسئولیت بریزند، می شد که همین کمک ها را مستقیماً برای زارعین می نمودند و زمینه کشت بدیل را فراهم می ساختند، کودکیمیاوی، تخم های بذری و اصلاح شده را توزیع می‌کردند و عملاً برای آنانی که به کشت مواد مخدر مبادرت می ورزیدند، جزای سنگین داده می شد .
بدون شک و تردید حضور و تجاوز بیست ساله امریکا در حریم مقدس خاک افغانستان نشانه مشخص از پایمال نمودن تمام سنن و ارزش‌های حقوق بشر و ارزش های انسانی و اسلامی بوده و زیان های جبران ناپذیری را بر حیات فرهنگی، اجتماعی و سیاسی مردم ما وارد نمود. امروز ما شاهد هستیم که در دو دهه گذشته میلیارد ها دالر کمک های خارجی به افغانستان آمد، رهبران سیاسی جمهوریت که یک وزارت را بنام وزارت مبارزه با مواد مخدر در تشکیل داشتند هیچگونه کاری نه درعرصه محو مواد مخدر و نه در عرصه بازسازی صورت گرفت و نه تغییری در زندگی مردم ما رونما گردید. بغیر از فساد اداری، انتخابات تقلبی، ساختن بلند منزل های مجلل، غصب زمین ها و دارایی های عامه برای خودشان، کار دیگری صورت نگرفته است که قابل ذکر باشد.
با پیروزی امارت اسلامی افغانستان و شکست امریکا و همپیمانانش در تمامی جغرافیای افغانستان امنیت، عزت و ثبات دائمی تامین شده و هیچگونه نگرانی از بی امنیتی وجود ندارد و همچنان هیچگونه زور گویی و مخالفتی در عرصه کاری امارت اسلامی موجود نیست که قابل تشویش برای هموطنان ما باشد. نظر به صدور وحکم مسئولین امارت اسلامی تصمیم قاطع اتخاذ نموده و عملاً کشت، تولید و قاچاق مواد مخدر را بطور کلی منع قرار داده اند و گام های عملی را برای محو این بته سیاه مطابق به قوانین اسلامی رویدست گرفته اند که این گیاه بدنام را بکلی از سر راهش دور سازد و لکه بد نامی را که در مدت بیست سال اشغال بالای افغانستان بود از چهره اش پاک سازد.
از روز جهانی مواد مخدر در کشور ما در حالی تجلیل به عمل می آید که در تمامی جغرافیای افغانستان امنیت عام و تام تامین می باشد و در مناطقی که قبلاً کوکنار در آن زرع می گردید، بعوض آن کشت زعفران،گندم و حبوبات زرع می شود. تقاضای دهقانان کشور ما از مسئولین امور اینست که با توزیع تخم های اصلاح شده بذری و کود کیمیاوی دهاقین کشور را همکاري ونیازمندی های آنان را مرفوع سازند تا بتوانند زمین های زراعتی خود را زیر کشت گندم، زعفران و سایر غله جات قرار دهند.

# Hewad Daily

چهار شنبه د ذوالحجة الحرام ۲۸ مه ۱٤٤٦ق کال ا د چنګاښ ٤ مه ۱۴۰٤ ل کال ا د2025م کال د جون ۲۵ مه

د ورځپاڼو رئیس: انجنیر عُزیر« بریالی»
موبایل: ۰۲۰۲۵۲۶۳٤۰
مسئول مدیر: شبیر احمد عثماني
موبایل: ۰۷۷۷۷۱۹۱۲۵
مسئول سکرتر: شبر محمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل - افغانستان
داړیکو شمېره: ۲۵۲۶۳٤۰ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب سایټ: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۷۳۶۰۶۰۷۳


# ترکي پلاوي د اسلامي امارت د قضايي نظام پرمختګونه وستايل



د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې قضايي مرستیال شیخ محمد قاسم راسخ د ترکیې د علماوو له راغلي پلاوي سره لیدنه کړې ده. په دې لیدنه کې دواړو لوریو د علمي او قضايي پرمختګونو په اړه خبرې وکړې.

شیخ محمد قاسم راسخ ویلي: په افغانستان کې اسلامي نظام حاکم دی او افغانان له دې ستر نعمته برخمن دي. همدارنګه له ترکیې څخه راغلي پلاوي افغانانو ته د اسلامي نظام د بریا د مبارکۍ تر څنګ د اشغالګرو پر وړاندې جهادي عزم ستایلی او ویلي یې دي، چې اسلامي امارت په نړۍ کې بې مثاله اسلامي نظام حاکم کړی دی. د سترې محکمې مسئولین وايي، چې په دغې لیدنه کې دواړو لوریو په راتلونکې کې د همکاریو پر لاپراختیا ټینګار کړی او ترکي پلاوي د اسلامي امارت د قضايي نظام د پرمختګونو ستاینه کړې ده.

مولوي قدرت الله جمال اجرائیه مدیرانو ته:

## د اداري چارو د لا ښه والي لپاره خپلې پوهې او تجربې وکاروئ

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت کې د مرکزي واحدونو اجرائیه تر عنوان لاندې درې ورځنی روزنیز پروګرام پای ته ورسېد.




مدیرانو ته «د اجراءاتو د ښه والي او د اداري سیستمونو د پیاوړتیا» په دغه پروګرام کې د مکتوب لیکلو، اداري مراسلاتو ... ۲مخ

## بدخشان کې د چت پرېوتو له امله د ۲ ماشومانو مړینه

د بدخشان ولایت په شهر بزرګ ولسوالۍ کې د یوې کوټې د چت نړېدو له امله دوه ماشومان مړه شول او یو بل ماشوم ټپي شوی دی.

د چارواکو په وینا، دا پېښه د شپې شاوخوا لس بجې د شهر بزرګ ولسوالۍ په «خاسار» کلي کې رامنځته شوې ده.

د بدخشان ولایت له طبیعي پېښو سره د مبارزې د دفتر مشر، مولوي محمد اکرم اکبري رسنیو



ته تأیید کړې،چې د پېښې په پایله کې یوه ۱۷ کلنه نجلۍ او یو ۱۴ کلن هلک مړه شوي دي. یو لس کلن ماشوم هم سطحي ټپونه لري او درملنه یې روانه ده.

د پېښې له ځایه د لومړنیو موندنو له مخې، د کور د یوې خونې چت د پرله پسې بارانونو له امله رانړېدلی دی.

ځايي اوسېدونکو ویلي چې کور له څو کلونو راهیسې بیارغونې ته اړتیا لرله، خو د کورنۍ د بې وزلۍ له امله یې ترمیم نه دی شوی.

سیمه‌ییزو چارواکو له مرستندویو ادارو ... ۲مخ

## غزني کې د خوراکي توکو د سلګونو هټیو تړل



د غزني ښاروالۍ خبر ورکړی، چې د دغه ولایت په مرکز کې له سلو ډېرې هغه هټۍ وتړل شوې، چې د توکو بیې یې د ایران او اسرائیلو د جګړې په پلمه پر خپل سر لوړې کړې وې. د غزني ښاروالۍ د مطبوعاتو مسئول عبدالولي جلالزي ویلي: له څو ورځو راهیسې یې په ښار کې هغه هټۍ تړلي،چې احتکار یې کاوه او توکي یې د اصلي بیې په نسبت په لوړه بیه پلورل. ده زیاته کړهک ځینې سوداګر او دوکانداران هڅه کوي د نړیوال وضعیت، په ځانګړي ډول د ایران او اسرائیلو د جګړې له اوازې ناسمه استفاده وکړي او د خوراکي توکو بیې لوړې کړي. د نوموړي په خبره، د بیو د لوړوالي له امله یې ... ۲مخ

## په کنمېنګ نندارتون کې د افغان سوداګرو ګډون او خوښي

یو شمېر افغان سوداګر د چین د کنمېنګ په نهم نړیوال نندارتون کې له ګډونه خوښي څرګندوي. دوی وايي، چې د دغه نندارتون په لړ کې یې خپل یوه برخه محصولات پلورلي او له بهرنیو پېرېدونکو سره یې خبرې کړې دي. دغه شپږ ورځنی نندارتون د بېلا بېلو هېوادونو د څه باندې ۱۴۰۰شرکتونو کوربه دی او د افغان سوداګرو لپاره په کې ۸۸ غرفې ځانګړې ... ۲مخ

## هرات کې د خطاطۍ نندارتون پرانیستل شو

د هرات ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست له لوري د تیکا دفتر په همکارۍ جوړ شوي نندارتون کې د اسلامي خطاطۍ



۱۱۰ بېلابېل هنري اثار نندارې ته وړاندې شول.

دا اثار د مشهور خطاط استاد حسن چلبي د یادولو په موخه ننداري ته وړاندې شوي دي.

د هرات د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس مولوي احمدالله متقي ویلي، چې د افغانستان او ترکیې هېوادونو د هنرمندانو تر منځ د ګډو نندارتونونو جوړول او د هنري اثارو معرفي کول د کلتور او هنر په وده کې ګټور اقدام دی.

نوموړي زیاته کړې، چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د هنرمندانو بشپړ ملاتړ کوي او د پرمختګ لپاره یې خپلې هڅې دوامداري ساتي.

یو شمېر هنرمندانو د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست له لوري د یاد نندارتون د جوړولو له امله مننه کړې ... ۲مخ

## بامیانو کې د یوې شخړې له امله دوه تنه وژل شوي

د بامیانو ځايي مسئولین وايي چې د دغه ولایت د مرکز د لومړۍ ناحیې په مربوطاتو کې د شخصي خصومت له امله رامنځته شوې شخړه کې دوه تنه وژل شوي دي. د بامیانو د والي ویاند صبور فرزان سیغاني ویلي چې د دغه ولایت د مرکز د لومړۍ ناحیې اړوند د «سراسیاب» کلي دوه اوسېدونکي د یوې نښتې په پایله کې د چړه‌یي توپک په ډزو وژل شوي دي. ده زیاته کړې،چې یاده پېښه ورمه شپه شوې ده. ده د یادې پېښې انګېزه شخصي دښمني یاده کړه او د جزئیاتو له ورکولو پرته یې ویلي چې د پېښې په اړه څېړنې پیل شوې دي.

## لوګر کې د هندوانو کرکیله زیاته شوې

د لوګر د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست چارواکو ویلي، چې د پخوا په پرتله په دغه ولایت کې د هندوانو کرکیله زیاته شوې ده. د یاد ولایت د کرنې، اوبو لګولو



او مالدارۍ ریاست مطبوعاتي مسئول عبدالبصیر شاهد ویلي: د پخوا په پرتله د لوګر په مرکز پل‌علم او ولسوالیو کې د هندوانو کرکیله زیاته شوې ده. نوموړي زیاته کړې: د دغه ولایت کروندګرو په خپلو کرنیزو ځمکو کې سږکال شاوخوا ۳۶۵ همکتاره ځمکه باندې هندوانې کرلې دي. شاهد وايي: د کرنې او مالدارۍ ریاست هڅه کوي ... ۲مخ

## غزني کې د کرېکټ د ۱۲ اوریزو سیالیو پیلېدل

غزني کې د کرېکټ مسئولینو ویلي،چې د دغه ولایت د مرکز په ګډون د اتو ولسوالیو د ۱۰ لوبډلو ترمنځ «د غزني د ولسوالیو جام» په نوم د کرېکټ سیالۍ پیل شوې.

د غزني د کرېکټ آمر عبدالودود پکتیال ویلي،چې دغه دوولس اوریزې سیالۍ د مرکز په ګډون د اتو ولسوالیو د لسو لوبډلو ترمنځ ترسره کېږي او شاوخوا ۱۵ ورځې به دوام وکړي.

ده زیاته کړه: «ټولې لس لوبډلې په دوو ګروپونو وېشل شوي، هره لوبډله به څلور لوبې ترسره کوي او له هر ګروپ څخه دوه مخکښې لوبډلې سیم‌فاینل پړاو ته لاره مومي.»

پکتیال وايي: دغه سیالۍ د غزني ولایت د کرېکټ د پراختیا، د ځوانو استعدادونو د موندلو او د ولسوالیو ترمنځ د ورورولۍ د پیاوړتیا په هدف ... ۲مخ

## لغمان کې لسګونو مېرمنو ته د کاري زمینې برابرېدل

د لغمان ولایت د اقتصاد ریاست مسئولینو ویلي،چې په دغه ولایت کې ۸۰ بېرته راستنو شویو مېرمنو ته په کور دننه د کار زمینه برابره شوې، څو خپل کورنی اقتصاد پیاوړی کړي.

د یاد ولایت د اقتصاد ریاست د نشراتو مسئول خلیل الرحمن صدیقي باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې دا پروژه د (یو ان وومن) دفتر په مالي ملاتړ د دغه ولایت په مرکز مهترلام کې پلې شوې ده.

نوموړي زیاته کړې، چې د دې پروژې په لړ کې۸۰ مېرمنو ته په ټولیزه توګه د ۱۳ زره امریکايي ډالرو په ارزښت د خیاطۍ ماشینونه او اړین وسایل ورکړ شوي دي.

ده وویل: د دې پروژې موخه دا ده، چې ښځې وتوانېږي د یادونې وړ ده، چې په مرسته شویو توکو کې د خیاطۍ ماشین، میز، اوتو، د ګاز ډبه



د جامو ګنډلو له لارې خپل ژوند ته دوام ورکړي، له فقر سره مبارزه وکړي او د ټولنې اقتصادي برخه کې ونډه واخلي.

او ځینې نور اړین وسایل شامل دي، چې د اقتصاد او صنعت او سوداګرۍ ریاستونو د استازو له خوا یادو کورنیو ته وسپارل شول.

## کندز کې له کورنۍ بندخونې د یوې نجلۍ خوشې کېدل

د کندز مسئولینو د یاد ولایت په «امام صاحب» ولسوالۍ کې له کورنۍ بندخونې د یوې یتیمې ماشومې د ژغورل کېدو خبر ورکړی.

د دغه ولایت د امنیې قوماندانۍ مسئولینو ویلي چې دا یتیمه نجلۍ د امام صاحب



ولسوالۍ په «مومندو» کلي کې د امنیتي ځواکونو له خوا ژغورل شوې ده.

د مسئولینو په وینا؛دا یتیمه نجلۍ د خپلو دوستانو له لوري له کلونو راهیسې په یو کور کې په ځنځیرونو تړلې ساتل کېده او په دې تړاو یو کس نیول شوی هم دی.

د کندز د امنیې قوماندانۍ مسئولینو د ژغورل‌شوې نجلۍ روغتیایي وضعیت خراب ښودلی، خو وايي درملنه یې پیل شوې ده ... ۲مخ